پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۱/۱۵

# سیمه ییز اقتصاد، اړتیا
# او له دې پلوه په سیمه کې دافغانستان دریځ

*« ...اوس افغانستان دمنځنی آسیا او جنوبی اسیا یوه مهمه برخه گرځیدلی او هیڅوک یې له اهمیت څخه سترگی نشی پټولای... دوکتورمحمد اشرف غنی»*

دویمه برخه

## د منطقوی اقتصاد حدود

دمنطقو دحدودو ټاکل (تحدید) یو اسانه کار نه دی. که څه هم هره منطقه بیلابیلي اقتصادي، اداري، تاریخي او نوري ځانګړني لري، خو بیاهم په دې اړه کوم قناعت بخښونکي ضوابط وجود نلري. په دې برخه کي دنظرونو توافق هم حتمی شرط ندی، مګر داقتصاد پوهانو او پلان جوړوونکو ترمنځ ځینی وخت په دې اړه چي ګواکي دغه ځانګړي حدود او سرحدات مناسب دي کنه؟ اختلاف هم وجود لري، ځینی وخت بیا هیڅ اختلاف نه وی. په واقعیت کي، دمنطقو دقیق تعریف دیو داسي کابوس او د تشویش وړ ټکي په شان دی چي زیاتره منطقه یی اقتصادپوهان ورڅخه دبی زړه توب لورته میلان لري او په هغه صورت کي چي دوی مجبور وي چي په اداري سیمو باندې دپالیسي دملاحظاتو په اساس باندي کار وکړي او یاهم له نورو فضایي واحدونو څخه دهریو په اړه باندي معلومات او سوابق موجود نه وي، د دي ستونزمن کار له کولو څخه ډډه کوي. لندہ دا چي دمنطقوی اقتصاد حدود تر یوی اندازې د سیمو او هیوادونو په تصصمیم پوری اړه لري. په دې اړه یو واحد تعریف وجود نلري، دتعریف انتخاب باید په لومړی درجه کي دڅېړني داهدافو پر بنسټ ترسره شي. دبیلګي په ډول که چیري سیمي په یوه بین الساحوي پلان جوړونه کي دغیر مترکزو ملي طرحو دیوی وسیلي په توګه مطلوبي وي، نو په دې صورت کي دسیمو لړ شمیر "مثلاً پنځه یا شپږ" مناسب دی. په دې حالت کي، دمجاورت معیار خورا مهم دی. داخبره ددې معني ورکوي چي دسیستم ساحي باید یو له بل سره تداخل او ترکیب ونلري، بلکي باید له ملي قلمرو سره مجاورت ولري. په دې ډول، یو بین الساحوي سسیتم په ساده ډول دامعنا لري چي ملي قلمرو په یو ټاکلي شمیر مجاورو ساحوباندي وو یشل شي. دایو اسانه کار نه دی. دبیلګي په ډول دهسپانیې تجربه په نظر کي ونیسئ: دهسپانیې پنځوس ولایتونه دبین الساحوي پلان جوړوني لپاره زیات موثر دي. دغه ډول یوې تجمع ته اړتیا ده. بالاخره، دتیرو دوو لسیزو یا له دې څخه په زیاته موده کي هسپانوي اقتصاد پوهانو او پلان جوړونکو دحدودو دمتبادلو تحدیدونو کره شمیرې وړاندي کړي. البته دپنځو او شلو سیمو په منځ کي.

کله چي اقتصادی سیمی د یو هیواد د ننه په نښه شوی وی، هغو ته سیمه یا منطقه (region) نه، بلکي د ولایت (province) او ناحیي(district) اصطلاحات کاروی، حال داچي دځوهیواد ترمنځ د یوی اقتصادی سیمی جوړول سیمه ییز اقتصاد بلل کیږي.

سیزا مانسکي "Czamanski" "۱۹۷۳"، د سیمی "Area"، حوزې "Zone" او ناحیي "Region" داصطلاحاتو ترمنځ یو ګټور توپیر طرح کړ. سیمه "area" یوه عمومي اصطلاح ده چي، دیوی دوه بُعدي فضا د یوې برخي معنا افاده کوي. او له همدي خاطره دفضایي اقتصادي څېړني لپاره زیاته ګټوره ده. دبیلګي په ډول دیوې بازاري سیمي مفهوم دامعنی لري چي یوه جغرافیایي ساحه په کومه کي چي دیوې ځانګړي تولیدوونکي منبع تولیدات پلورل کیږي.

زون په اصل کي یوه فني اصطلاح ده چي دهغه عرضی کمربند معنی افاده کوي کوم چي له یوې کرې څخه غوڅ شوی وي.مګر اوس مهال دهغې سیمي دتعریف لپاره استعمالیږي چي له هغي ساحي څخه بیلي ځانګړتیاوي ولري، کومه چي همدا سیمه یي احاطه کړیده. منطقه "Region" یوه خورا دقیقه اصطلاح ده "دتعریف له اغماض سره ــسره " چي دملي اقتصاد[۱] په داخل کي په هغي سیمي باندي دلالت کوي چي کومه په خپل جوړښت کي خورا جامع ده او په مستقل ډول عمل کولای شي اوزیاتو عملي مواردو کي داقتصاد له ستونزو سره پیاوړي اړیکي لري. تکراراً ویلای شو چي منطقه "Region" داسي یو انسجام لري کوم چي په تاریخي ډول په یوه فضاباندي استوار دی، په داسي ډول سره چي کیدلای شي دغه انسجام دزماني بُعد له نظره هم تعریف شي.

نتیجه: سیمه ییز اقتصاد Regional Economic د اقتصاد د علم د پراخه ډګر یوه هغه څانګه ده چي د منطقو اقتصاد، اقتصادی پوټانسیل، له نورو سیمو سره یي د اقتصادی اړیکو ټینګول او د سیمي اوسیدونکو د اقتصادی اړتیاوو پوره کول او په ځانګړو سیمو کی د ځانګړو منابعو تخصیص مطالعه کوي.

په بله وینا:

سیمه ییزاقتصاد په یوه ځانګړي فضایی بُعد کي اقتصادی فعالیتونه چي د اقتصادیت په موخه متمرکز شوی، څیړی. په دغه مطالعه کي ډیر مسایل شریک دی لکه: جغرافیه او جغرافیاوی خصوصیات، د پولو او سرحداتو پیژندنه، د منابعو دغوره تخصیص تخنیک، دعامل- حاصل تحلیل، د اقتصادي فعالیتونو ګاوندیتوب، ښاری او کلیوالی تشبثات بیلول، د مناقلاتو د اقتصاد مطالعه، د بین الساحوی او ساحوي پلانونو جوړول، له سیاسی واقعیتونو څخه خبرتیا او ناحیه بندی یا ناحیو باندي ویشنه. په دی توګه دا علم د کمپوزیت composite یا مرکب دانش او تحقیق یو پایله ده، چي د سیمی د اوسیدونکو د ژوند د ستینداړې د اوچتولو، د مفاد د اعظمی کولو او د لګښتونو د اصغری کولوپه موخه د یوی ټاکلی جغرافیایي ساحي او فضایي بُعد spatial dispersion تر چتر لاندی اقتصادي فعالیتونه څیړي.

## د منطقوی اقتصاد اهمیت او موقعیت

دمیلادي پنځلمسي اوشپاړلسمي پیری په ترڅ کي په اروپاکي (په تیره بیا په انګلستان کي) داسي نظریاتونه وده ورکړل شوه چي هرڅه یي په ثروت کي لټول او د دولتونو قدرت یي هم د سروزرو په راټولو کي بنوده، دمادیاتو راټولولو د دوي د اقتصادی تفکر بنسټ جوړاو چي دوی ته د مرکانلستانو نوم او مکتب یانظریاتوته یي د Mercantilism نوم ورکړل شو. دوی سوداګری هڅوله او له لری اونږدې سیمو څخه یي، د سوداګری په واسطه دثروت راجمع کول موخه وه. اقتصادي چاروکي یي د دولت

---

[۱]- کله‌کله‌داقتصاداو ملي اقتصاد کلمات سره مترادف وي.

مداخله اعظمی حدته ورسوله. دوی په ناسیده توګه دولتونه دزیاتو زیرمواو منابعو لرونکو سیموته ځیر کړل. په پوهنتونو او علمی مراکزوکي داقتصادی پرمختګ په برخه کي علمی څیړني پيل شوی او اقتصادي جغرافيي ځانګړی ارزښت ترلاسه کړ. دعلمی څیړنو په پايله کي دسيمو نسبی مزيت او مطلق مزيت څرګنداو بيلابيل مناطق دخپلو ځانګړو مزيتونو له امله دځانګړو اجناسو او خدماتو توليد او عرضی ته بيل کړل شول، دسيمو ترمنځ دمناقلاتو په اقتصاد بحث وشو او مقايسوی لګښتونه وسنجول شول. دلومړی ځل لپاره په ۱۹۱۰م. کال کي يو موډل وړاندي شو بيا د ۱۹۵۰م. لسيزې په نيمايي کي منطقوی اقتصاد، ديوه تحليلی چوکاټ په توګه مطرح او دهغه په پايله کي دمحل دتخصيص اود محل داستقرار نظريه رواج شوه. دښاري اقتصاد او دفضايي اقتصاد سيستم رامنځته کيدل دهمدغو څيړنو پايله ده .
ترڅير وخت پورې دمنطقوی اقتصاد په ډګرکي هم دعمومي اقتصاد په منطق باندي چلند روان و. دتوليد، لګښتونه، عوايد او د نورو مسايلوسنجش لکه د عمومي اقتصاد په شان ترسره کيد، خو وروسته دا موضوع درک شوه چي په منطقوی اقتصاد کي دمحل اسقرار، د مناقلاتو د دايرې محدوديت، د تمرکز نقاط، د عامل-حاصل بين المنطقوی تحليل، د مزيتونو(Advantages) مقايسه او داسي نور ټکی هغه څه دي چي له عمومي اقتصاد سره يي بايد توپير وشي. تجاربو ثابته کړه چي د منطقوی اقتصاد اهميت په دې کې دی چي داقتصاد دعلم دغه برخه خپلي درې مهمي ساحي لري چي لږ وروسته به يي ولولو.

## د منطقوي اقتصاد پرمختيا

د منطقوی اقتصاد تيوري او موډلونه او دهغو تطبيق او ترلاسه شوی تجارب د اوږدې مودې په ترڅ کي تر کتنی او مطالعي لاندې ونيول شول، تر څو يې چي اوس د يوې نوې او پرمختللې ځانګې په توګه تبارز وموند. د دغه علم د پرمختګ لپاره بيلابيلو علماوو نه ستومانه کيدونکی زيار ګاللی دی. وان تونن (Johan Heinrich von Thunen) يو آلمانی اقتصاد پوه و چې د اقتصادی فعاليتونو او د سيمو د ګټورتوبونو له مخې يې سيمې او مناطق جلا کړل. نوموړی د مارکيټ او مرکزی بازار څخه د لری والی يو موډل وښود چې له مرکزی بازار څخه د فاصلې په زياتېدو مفاد کميږی. نوموړي له ۱۷۸۴ څخه تر ۱۸۵۰ م. کال پورې ژوند کړی او د کلاسيکو اقتصاد پوهانو په ډله کې نامتو اقتصاد پوه و. ده لومړی د يوې سيمې کرنيزې ځمکې د کمربندونو په واسطه په مناطقو وويشلې او له مرکزي مارکيټ څخه يي د فاصلی له مخی د هغو توليد او کرايه وسنجوله . ده په حقيقت کې مناطق د ځانګړو توليداتو لپاره وښودل، نيو کلاسيکانو ته هم د منطقی ټاکنه په زړه پورې وه. د بيلګې په توګه امريکايي اقتصاد پوه Robert Solow په ۱۹۵۶ او ۱۹۵۷ م. کلونو کی د منطقويتوب نظريه خپره کړه او د يوې منطقې د عرضې اړوندو عوامل يې څرګند کړل او د عرضې د عواملو سره يو ځای يي د تخنيکی عواملو پرمختګ او د کار د مولديت د زياتيدو نظر ورکړ. د کينز پيروانو په معاصروخت کي د تقاضا په عواملو ټينګار وکړ. دوی د توليدي نتايجو لپاره په منطقه (سيمه) کي رقابت د اهميت وړ وباله او Cumulative Causation (مجموعی ټول دلايل) او demand-based explanation (د تقاضا پر بنسټ توضيحات) يي د منطقويتوب لپاره دلايل راوړل او دا يي د منطقوی پرمختګ لپاره يوه آنګيزه وبلله.
د وان تونن له مهال څخه وروسته بيا صنعت او خدمات هم په څيړنو کي شامل شول. د هغه په موډل کی ويل شوي چي هغه توليدات چي درانه او خرابيدونکی دی بايد مرکزی مارکيټ ته لنډ توليد شي چي په لږ مصرف مارکيټ ته ورسيږی:
له وان تونن پرته، يو شمير نورو پوهانو لکه رالی بارلو، ويبره Weber، لوش Losch، او کرستلر Cristaller هم د منطقه يی اقتصاد په هکله څيړني او ليکنی کړی دی.
وان تونن دغه سيمی په B،A او C يا د اعدادو له مخي په ۱، ۲، ۳... وښودي . د تونن برخلاف سيزا مانسکی (Czamanski) (۱۹۷۳) د سيمی (area)، حوزي (zone) او ناحيي (region) د اصطلاحاتو ترمنځ توپير څرګند کړ. سيمه يا area يوه عمومی اصطلاح ده چي د يوی دوه بُعدی فضا د يوې برخې معنا افاده کوي. دغه ډول ساحه او سيمه ټاکنه د ټاکلي او معين اقتصادي فعاليت د ښوونې لپاره استعماليږي. لکه هغه سيمه چي هلته يواځی برينښنايي وسايل پلورل کيږی، هغه سيمه چي د ژمی له خوا واوره پکي وريږی او داسي نور. ددي سره په توپير کی زون Zone يوه فنی اصطلاح ده چي د کمربند او

کرښو په واسطه تقسیم بندي شوی وي لکه د بیو زونونه چې لومړي زون کې بیې د دوهم او دریم په پرتله ارزانه وي. خو منطقه region بیا یوه کره او په نښه شوی پراخه ساحه ده چې هم په ملی پولو (سرحداتو) کی دننه او هم د څو هیوداونو څخه جوړه شوي وي. یعنی ملی او له ملي کچې پورته منطقې. دا یو فضایی بُعد دی چې اقتصادی فعالیتونه را نغاړی. دا هم باید وواېو چې د اقتصاد د علم له ډګر څخه بهر په عمومی خبرو کی د دوی توپیر هیچاته مهم نه ښکاری او ورځنیو خبرو- اترو کی تل دا اصطلاحات یو د بل پرځای استعمالیږی.

## د اقتصادی فعالیتونو منطقه یی تحلیل

دلته په منطقه یی اقتصاد کي اکثراً له منطقو څخه موخه د هیواد دننه هغه جغرافیاوی ساحات دي چې د یوه ټاکلی جنس یا خدمت د تولید اوچت ظرفیت لری لکه د صنعتی خامو توکو منطقه، د میوه جاتو د تولید منطقه، د تفریحی او توریزم د صنعت منطقه او داسي نور، خو ځینی وخت بیا د یو هیواد له ملی پولو بهر په بین المللی ډول د څو هیوادونو یو ګروپ، ډلي یا بلاک (block) لپاره استعمالیږی. د منطقو سره جلا کولو ته دري کلاسیک ډولونه موجود وو، چي اوس دغو ویشنو کی بدلون راغلی. دغه کلاسیک خصوصیات په لاندي ډول دي:

**الف) متجانسي منطقي:** دغه سیمي یو شانته ځانګړتیاوي لري، کوم داخلي توپیرونه که موجود وي، هغه ډیر په پام کي نه نیول کیږی. دی ته homogeneous region ویل کیږی.

**ب) قطبی شوی منطقي Nodal (polarized) region** : دلته مشابهتونو او ورته والي ته اهمیت نه ورکول کیږی. معمولاً د پام وړ د یوی ټاکلی غوټی (node) خواته قطبی شوی وي او سیمه د همدغي غوټی په محور ویشل شوی او نوم وربانديِ اېښودل شوی وي. دغه محوری یا دپام وړ غوټه د اقتصاد لپاره مهم ( دمقصد ټکی یا adhoc) وي چي پلانونه او پروګرامونه ورته په پام کي نیول کیږي.

**ج) د پلان جوړوني یا برنامه ریزی (planning / programming region) له مخي منطقي:** په دغه ډول ویشنه کي اداري یا سیاسي برنامي او تصامیم رول لري.

اقتصاد پوهان، اقتصادی پالیسی جوړوونکی او د تولید او مارکیت متخصصین د پام وړ ناحیي په لاندی توګه ټاکي:

د دوهمی برخی پای
نور بیا

## یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی ددی لیکوال نوری لیکنی هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!